高等学校外语非通用语专业系列教材

本书适用于普什图语专业学习者、二外学生及具有基础的自学者

下载“世图粤读”APP
搜索书名获取更多资源

# د پښتو د لوړو زده کړو چیپټر

# 高级普什图语

杨朝晖 罗序洋 ◎ 编著



世界图书出版公司

高等学校外语非通用语专业系列教材

本书适用于普什图语专业学习者、二外学生及具有基础的自学者

下载“世图粤读”APP
搜索书名获取更多资源

# د پښتو د لوړو زده کړو چيپټر

# 高级普什图语

杨朝晖　罗序洋 ◎ 编著



世界图书出版公司
广州 · 上海 · 西安 · 北京

**图书在版编目（CIP）数据**

高级普什图语 / 杨朝晖，罗序洋编著. -- 广州：
世界图书出版广东有限公司，2023.3
ISBN 978-7-5232-0241-8

Ⅰ. ①高… Ⅱ. ①杨… ②罗… Ⅲ. ①普什图语－教
材 Ⅳ. ①H735

中国国家版本馆 CIP 数据核字（2023）第 034370 号

| | |
|---|---|
| **书　　名** | 高级普什图语<br>GAOJI PUSHITUYU |
| **编 著 者** | 杨朝晖　罗序洋 |
| **策划编辑** | 刘正武 |
| **责任编辑** | 张东文 |
| **出版发行** | 世界图书出版有限公司　世界图书出版广东有限公司 |
| **地　　址** | 广州市海珠区新港西路大江冲 25 号 |
| **邮　　编** | 510300 |
| **发行电话** | 020-84184026　84453623 |
| **网　　址** | http://www.gdst.com.cn |
| **邮　　箱** | wpc_gdst@163.com |
| **经　　销** | 新华书店 |
| **印　　刷** | 广州市迪桦彩印有限公司 |
| **开　　本** | 787 mm × 1092 mm　1/16 |
| **印　　张** | 14.25 |
| **字　　数** | 328 千字 |
| **版　　次** | 2023 年 3 月第 1 版　2023 年 3 月第 1 次印刷 |
| **国际书号** | ISBN　978-7-5232-0241-8 |
| **定　　价** | 39.80 元 |

版权所有　侵权必究
**咨询、投稿**：020-84460251　gzlzw@126.com
（如有印装错误，请与出版社联系）

此为试读，需要完整PDF请访问：www.ertongbook.com

# 前　言

阿富汗是古代丝绸之路的主要节点，中阿友谊源远流长。普什图语专业学生不仅需要提高语言技能，也需要对阿富汗社会、历史、文化等各方面知识有所掌握。本教材力求将阿富汗多姿多彩的异国风情及其国别现状通过课文的形式呈现给学生，让学生在提高语言水平的同时对阿富汗有更深入的了解和认知。

本教材共三十二课，主要分成两大部分，即前十六课和后十六课。前十六课主要是介绍阿富汗的社会文化，分别介绍了阿富汗的文化遗迹、高等教育现状、公立大学、母语教育状况、普什图语方言、中阿人文交流历史、普什图社会、普什图瓦里、支尔格会议、殷勤好客的风俗、订婚与结婚的习俗以及几位阿富汗历史上重要的政治人物；后十六课选材多为短篇小说或文学作品节选，其中也包含一些介绍阿富汗本土文化的课文，例如介绍帕克提亚及霍斯特风俗、阿富汗农村手工艺、普什图谚语、诅咒与祝祷等文章，另外也有关于阿富汗近现代历史的文章，选材多样丰富。教程除了有精心选材的课文外，还附上较为详尽的单词表辅助学生学习课文。每课也设置了与课文相关的课后题，部分篇幅较短的课文也会附带内容相近的课外阅读供学生学习。

不同地区的普什图语存在一些差异，编者在处理文章的时候尽可能地保留了原文，希望读者能接触不一样的方言或语言习惯，便于以后的学习阅读。

本书在撰写过程中，得到了中央广播电视总台普什图语部各位老师的大力协助，其中王亨提供了珍贵的原稿，席猛和陈重为教材鉴定提供了很大帮助。北京大学孔菊兰教授在本书的结构与内容择选上提出了非常全面的建议，使得本书在结构与内容上能够做到由浅入深，相互交织。读者在使用此书时一则能够提高自我的普什图语阅读能力，二则能够迅速扩大对阿富汗的知识面，开阔视野。本书还得到了远在阿富汗的赛杜拉赫曼·萨尔先生，喀布尔大学普什图语系主任赫库莱先生和阿卜杜勒·哈克先生的帮助，他们得知编者在撰写此教材也热心协助查找资料、供稿和负责了部分校对工作。本教材还得到了云南民族大学的资金帮助，在此深表谢意。

普什图语的书籍材料较为稀缺，编者有幸从阿富汗购置一些原文书籍并汇编到本教材，但书本印刷质量不尽如人意，也加大了工作量和工作难度。另外受水平所限，本书难免会有疏漏和不当之处，还请相关专家和广大读者批评指正。文中出现的原文

及图片版权归原作者所有，编者已尽力联系原作者，由于时代久远及信息不畅，无法一一落实，如有侵权请立即与我们联系，我们将及时处理并给予报酬。

# 目 录


第 1 课 阿富汗文化遗产 د افغانستان فرهنګي میراثونه ........ 1

第 2 课 阿富汗高等教育现状 د افغانستان د لوړو زده کړو موسسې حالت ........ 9

第 3 课 阿富汗公立大学 د افغانستان دولتي پوهنتونونه ........ 14

第 4 课 阿曼努拉·汗 غازي امیر امان الله خان ........ 19

第 5 课 母语日 د مورنۍ ژبې په اړه د بی بی سي لپاره نظرونه ........ 23

第 6 课 普什图语方言 پښتو لهجې ........ 27

第 7 课 中亚政局简述：阿富汗 د منځنۍ اسیا سیاسي حالاتو ته یوه لنډه کتنه: افغانستان ........ 32

第 8 课 中阿友谊源远流长 د چین او افغانستان تر منځ دوستي اوږد تاریخ لري ........ 38

第 9 课 梅尔维斯 میرویس نیکه ........ 43

第 10 课 努尔·穆罕默德·塔拉基 نور محمد تره کی ........ 48

第 11 课 普什图社会 پښتني ټولنه ........ 54

第 12 课 普什图瓦里 پښتونولي ........ 58

第 13 课 支尔格大会 جرګه ........ 66

第 14 课 热情好客 مېلمه پالنه ........ 72

第 15 课 订婚 د کوژدې دودونه ........ 76

第 16 课 结婚 د واده دودونه ........ 82

第 17 课 帕克提亚和霍斯特民俗 د پکتیا او خوست فولکلور ........ 91

第 18 课 农村手工艺 کلیوال لاسي صنعت ........ 97

第 19 课 胡什哈尔·汗·哈塔克 خوشحال خان خټک ........ 104

第 20 课　普什图女文豪 په پښتو ادب کې د مېرمنو برخه …… 110
第 21 课　旅游（散文）توریزم …… 116
第 22 课　时间（散文）وخت …… 120
第 23 课　我是马拉拉 زه ملاله یم …… 127
第 24 课　记录（散文）ریکارډ …… 132
第 25 课　牛肉干（小说）د غوایي لاندی …… 138
第 26 课　米饭（小说）ډوډۍ …… 144
第 27 课　战争与和平 جګړه او سوله …… 150
第 28 课　诅咒与祝祷 ښیراوې او دعاګانې …… 157
第 29 课　兰黛 لنډۍ …… 164
第 30 课　普什图谚语 متلونه …… 171
第 31 课　翻译之道 د ژباړې لار …… 177
第 32 课　阿富汗近代简史 د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه …… 182
词汇表 لغتونه …… 188

# 第 1 课　阿富汗文化遗产

# د افغانستان فرهنګي میراثونه

له ابداتو نیولې تر حماسي شعرونو پورې، د افغانستان ټول فرهنګي میراثونه د یو ځانګړي طبیعت، ویاړ او پر تم ثرګندوی دي. اوس دا میراثونه له خپلې سیمې او چاپېریال سره یو ځای، له خطر سره مخامخ شوي دي. په دې لیکنه کې د سیمې د فرهنګي پرمختیا د پیل، د اوسنیو ستونزو او د هغو د څېړنو په باب بحث کېږي چې کولای شئ په دې برخه کې یوه ګټوره هڅه رامنځته کړئ.

دافغانستان دفرهنګي میراثونو ریښې تر ننه سل زره کاله د مخه، هغه وخت ته رسېږي، چې نرو او ښځو هغه لومړني ډبري وسایل رامنځته کړل چې تر اوسته کشف شوي دي. دا وسایل د پالیولیتیک په دویم پړاو پورې اړه لري. دا وسایل د غزني په ناور دښته کې چې یو وخت د هغه عصر د خلکو استوګنځی و، په تیت و پرک ډول شته. دناور دښته د افغانستان په مرکزي برخه کې یوه پراخه سیمه ده، چې جهیلونه او کرنیزې ځمکې لري او د زیات شمېر هیلیو د استوګنې او تغذ یې لپاره زمینه برابروي. ډېر ښکلي ډبرین وسایل له شمالي ولایت بلخ نه، د بلخ د سیند پر غاړه، د اوسني آق کپرک کلي ته نږدې، له ډبرینو غارونو او پناه ځایونو څخه تر لاسه شوي دي. د پالیولیتیک د لومړي پړاو مربوط د آق کپرک د چقماقي وسایلو جوړوونکي، چې تر میلاد پنځه لس زره کاله د مخه یې کار کاوه، د پالیولیتیک د دورې (میکل انژلونو) په نامه یادېږي.

اوسۍ کړکېچنې سیاسي وضعې د افغانانو پر فرهنګي دود، ویجاړوونکی او تور سیوری خور کړی دی، البته دا یوه پېښه نه ده چې په تاریخ کې نه وي پېښه شوې، داسې حالات ددې هېواد د تاریخ په اوږدو کې پخوا هم پېښ شوي دي. کېدی شي یوه بېلګه یې د غزني د ښار لوټ و ګنو، چې د علا الدین غوري د یرغل په واسطه پر ۱۱۵۱ م کال تر سره شو او بل مثال یې پر ۱۲۲۱ م کال د چنګېز په واسطه عامه وژنه ده، چې د غزني پرتمینې ماڼۍ او ښوونه یې د تل لپاره پر کنډوالو بدل کړل، ثرګنده خبره ده چې کړ کېچونه، د نه جبرانېدونکې فزیکي ویجاړتیا او زیننونو سبب کېږي، د دې ډول کړکېچونو په پایله کې خلک په ډله ییز ډول بې ځایه کېږي او د خلکو دودونه او هویت ددې ډول بحرانونو په دوړو او تیارو کې ډوبېږي د مهاجرتونو په بهیر کې ځینې ډلې دېته پام کوي، چې د خپل هنر د ودې او تخلیق په واسطه ځینې وتلې هنري پدیدې، د لاسي صنایعو، ګلدوزۍ او نورو هنري ځانګړنو له لارې وساتي او وده ورکړي.

د دې خبرې یادول ضروري دي، چې جګړه د هنري بنسټونو د ړنګونې او کمونې یوازینی عامل نه دی، ښاري ژوند هم دودونه له منځه وړي. په بشري ژوند دود کې بدلون په خپله د هنرونو او لاسي

صنایعو د له منځه تللو یو بل عامل ګرځي. د ساري په ډول: د لرګیو د کندنکارۍ انجنیري چې یو وخت د پرله پسې پېړیو په بهیر کې په ټول افغانستان کې دود او رواج وه، د ۱۹ پېړۍ په وروستیو کې ورکه شوه. تر جګړو د مخه یې تقریباً ډېرې کمې بېلګې کېدی شي وموندل شي. تر جګړې د مخه دې هنر ته چندان پاملرنه نه وه شوې او اوس یوازې د کابل د زاړه ښار په کنډوالو کې په تیت وپرک ډول لیدل کېږي. که چېرې د دې هنر جوړوونکي د هغه بڼه بدله نه کړي، نو دا ډول تخلیقات او هنري پنځونې به بې له شکه پر پخو ودانیو بدلې شي. مهمه خبره دا ده چې نوې او زړې پدیدې باید سره پرتله شي او په ټولنه کې د دوارو انډول وساتل شي. نوښتونه او د هغو د وام باید یو له بل سره په موازي ډول حرکت وکړي. چې د ټولنې په هر غړي کې د ځان پېژندنې احساس وروزي، هغه احساس چې یو ملت د واک او صلاحیت لپاره لازم ګڼل کېږي. نن تېرو تاریخي سمبولونو او بنسټونو ته بې اعتنایي دوام لري، موزیمونه په بشپړه توګه لوټ شوي، لرغونې سیمې په بېرحمۍ سره تالا شوي، هنر او موسیقي منع شوي او مهمې تاریخي ماڼۍ او ودانۍ ویجاړې او ورانې شوي او یا یې لازمه څارنه او ساتنه نه کېږي.

ان د هغو پنځوسو تاریخي ابداتو اوسني حالت ته، چې په دې لیکنه کې یې یادونه شوې، یوه سر سري کتنه، دا په ډاګه کوي چې له استشناتو پرته د افغانستان تاریخي شتمني، کم ارزښته ګڼل کېږي، دکم ارزښتۍ دا فکر تر هغه حالت هم بدتر دی چې دا ودانۍ په کې په فزیکي ډول ویجاړېږي او له منځه ځي.

د افغانستان مرکزي سیمه - بامیان:

د لویو مجسمو په ګډون له درېیمې څخه تر اتمې میلادي پېړۍ پورې بودایي مجتمع په مناسب حالت کې دي. یوالي نقاشي د طبیعي پېښو له ګواښ سره مخ شوې او د بېړنۍ پاملرنې غوښتنه کوي.

غزني:

له درېیمې میلادي پېړۍ څخه تر اتمې میلادي پېړۍ اړوند د سردار تپې بودایي مجتمع، چې د ایټالیانو له خوا یې پلټنه شوې وه، د له منځه تلو په حال کې ده.

د سلطان محمود غزنوي (۹۹۷- ۱۰۳۰ م) د مقبرې حالت ښه دی.

په ۱۲ مې میلادي پېړۍ پورې اړوند، د غزنویانو د دورې د درېیم مسعود ماڼۍ چې د فرانسویانو له خوا کیندل شوې وه، لوټ شوې ده.

د غزنویانو د عصر مینا رونه (۱۲مه میلادي پېړۍ) د پېښو د اغېز له کبله، پاملرنې ته اړتیا لري.

د ۱۲ میلادي پېړۍ پر وروستیو په غور ولایت کې د غوریانو د عصر مینار جام طبیعي عوارض او د سیند له غاړې د اوبو د راپورته کېدو له امله د هغه ټینګښت او ساتنه بیړنۍ اړتیا ګڼل کېږي. د تیمور شاه مقبره ۱۷۹۳م:

د تیمور یانو په دود جوړه شوې ودانۍ، په جدي ډول د ویجاړۍ په حال کې ده. بڼ یې له منځه تللی، بیړني ساختماني ترمیم ته اړتیا لري.

د افغانستان لویدیځ:

هرات:

جامع جومات:



پر ۱۲۰۰م کال د غوریانو پر وخت جوړ شوی او په ۱۵ میلادي پېړۍ کې د تیموریانو په واسطه ترمیم او له ۱۹۴۳ کال راپه دېخوا یې ښکلا ته نوره پاملرنه هم کېږي. له جګړې څخه رسېدلې زیانونه یې ترمیم شوي او په ښه ډول ساتل کېږي.

د مالان پل:


له ۱۵۰۶ کال څخه شتوالی لري، جګړو ورته زیان رسولی او د ۱۹۹۴-۱۹۹۶ کلونو ترمنځ په ناسم (نافني) ډول ترمیم شوی دی.

ګازرګاه:

د تیموریانو په واسطه په ۱۵ میلادي پېړۍ کې په کاشیو ښکلی شوی زیارت د ۱۱میلادي پېړۍ ستر صوفي شاعر او فیلسوف خواجه عبدالله انصاري ته ځانګړی شوی دی. د هغه د مجاورانو له خوا ښه ساتل کېږي. د مرمرو له ډبرو څخه جوړه، د یوه حیوان مجسمه چې هغه ته په ورننوتونکې دروازه کې ودرول شوې وه. د طالبانو له خوا لرې شوې ده.

د افغانستان شمال:

طلا تپه:





此为试读,需要完整PDF请访问: www.ertongbook.com

شبرغان ته نږدې، په لومړۍ میلادي پېړۍ پورې اړوند، د کوشانیانو یوه هدیره، د افغانستان او شوروي لرغونپوهانو ګډو کیندنو شپږ قبرونه رابهر کړل، چې له هغو څخه د سرو زرو شاوخوا شل زره اثار لاسته راغلي وو، د دوو ناپلټل شویو قبرونو تالان پر ۱۹۸۰ کال پیل شو.

بلخ:

زوړ ښار: د ۱۹۹۵ کال له پټو پلټنو څخه د ای خانم یوناني ستنو ته ورته ستنې لاسته راغلي، چې د شخصي کورونو د جوړولو لپاره ورڅخه کار اخیستل شوی دی. ناتایید شوي راپورونه د زیاتو کشفونو خبرې کوي.

مزارشریف:

د حضرت علي کرم الله وجهه روضه: د ۱۵ پېړۍ د تیموري عصر ودانۍ، د عصري کاشیو له نویو ښکلاوو سره پرې له ۱۹۹۴ کال راپه دېخوا نافني کار روان دی. د هغې لوی چمن د سمنټو له کڅوړو، مېزونو او څوکیو څخه ډک دی.

د افغانستان ختیځ:

هډه:

جلال آباد ته نږدې له دویمې تر اوومې میلادي پېړۍ اړوند بودایي معبد او ستوپه په یو مجتمع کې، پر ۱۹۸۱ کال د جګړو له کبله ویجاړه شوې، په ټولیز ډول یې ټول اثار ورو ورو له منځه وړل شوي. د یو نا منقول موزیم په توګه په اصلي حالت ساتل کېده، اوس ورڅخه څه پاتې نه دي.

د افغانستان جنوب:


د هلمند ناوه:

په بست او لښکري بازار کې د ۱۲م پېړۍ د غزنویانو د وخت ژمنۍ ماڼۍ او بالاحصار، تر جګړې دمخه د بست تشریفاتي لیندۍ ترمیم او تر اوسه پورې هغې ته د کوم جدي زیان د رسېدو خبر ترلاسه شوی نه دی.

د کندهار - د اشبوکان بڼ:

د کندهار په زاړه ښار کې ارامیک او یوناني دوه ژبی یو ډبرلیک چې ۳ق م پېړۍ پورې مربوط دی په خپل اصلي حالت موجود و. دهغه په باب معلومات په لاس کې نه شته.

چهل زینه:



د ۱۶ میلادي پېړۍ اړوند له ډبرې څخه د ځلوېښتو پوړیو جوړه یوه زینه، چې د ظهیرالدین محمد بابر د لارښوونې له مخې د جوړ شوې ډبر لیک له محوطې سره نښلي، د هغو په باب معلومات په لاس کې نه شته.

د احمد شاه بابا مقبره (۱۷۷۲م):



بهرنۍ برخه یې ډېره استادانه مهندسي او په داخل کې نقاشي لري چې په ښه حالت کې ده.

د میرویس نیکه مقبره (۱۷۱۵م):

پر ۱۹۳۰ م کال د احمد شاه بابا د مقبرې په شان جوړه شوې ده، د باندې د ښې مهندسۍ او په داخل کې د نقاشۍ لرونکې ده، چې شاوخوا یې د کوکران د بڼ په واسطه احاطه شوې او ښه ساتل شوې ده.

| لغتونه | | | |
|---|---|---|---|
| 遗产 | 〈阿〉[ 阳 ] | mi'ra:s | میراث |
| 叙事诗的；史诗的 | 〈阿〉[ 形 ] | hama:'si: | حماسی |
| 四周，周围，环境 | [ 阳 ] | cha:peri'ya:l | چاپېریال |
| 时代，纪元 | 〈阿〉[ 阳 ] | 'asr | عصر |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 住所，居住地 | [阳] | astogən-'dzai | استوګنځی |
| 分散的，散开的，涣散的 | [形] | ti:t-u-parak | تيت و پرک |
| 湖，湖泊 | [阳] | jhi:l | جهيل |
| 住，居住 | [阴] | as'togəna | استوګنه |
| 无秩序的，混乱的 | [形] | kaṛkechən | کړکېچن |
| 损害，损失；紊乱，混乱 | [阳] | wija:r-'tob | ويجاړتوب |
| 掳掠，抢劫，掠夺，盗行 | [阳] | luṭ | لوټ |
| 危机，恐慌 | 〈阿〉[阳] | buh'ra:n | بحران |
| 淹没，沉没，隐没，消没 | [不及] | ḍube'dəl | ډوبېدل |
| 移居，迁移；迁居，侨居 | 〈阿〉[阳] | muha:ja'rat | مهاجرت |
| 创造，创作；造成，建成 | 〈阿〉[阳] | ta'khli:q | تخليق |
| 一起，彼此，自身之间 | [副] | wa'bala | وبله |
| 刺绣，绣花 | [阴] | gul-du'zi: | ګلدوزي |
| 工程的；工程学 | [形][阴] | injini'ri: | انجنيري |
| 线索，痕迹；标记；例子 | [阴] | bel'ga | بېلګه |
| 这样，那样，这么，那么 | 〈波〉[副] | chan'da:n | چندان |
| 创造，创作；造成，建成 | 〈阿〉[阳] | ta'khli:q | تخليق |
| 创造，创建，创作 | [阴] | pəndza'wəna | پنځونه |
| 平行的，同时的；平等的 | 〈阿〉[形] | muwa:'zi: | موازی |
| 能力；职权，权能；管辖权 | 〈阿〉[阳] | sala:hi'yat | صلاحيت |
| 关心，关怀，注意，当心 | 〈阿〉[阴] | i'ti'na: | اعتنا |
| 无情，冷酷；残忍 | 〈波、阿〉[阴] | be-rah'mi: | بېرحمي |
| 抢劫，掠夺 | [阴] | ta:'la | تالا |
| 宫殿，露台，建筑物 | [阴] | ma:'ṇəi | ماڼۍ |
| 监督，监视；侦察，侦探 | [阴] | tsa:'rəna | څارنه |
| 圣地，圣物 | 〈阿〉[阴] | a:bi'da | آبده |
| 木头，梁，柱 | [阴] | ḍa:'ga | ډاګه |
| 集合起来的，汇合的 | 〈阿〉[形] | mujta'mi’ | مجتمع |
| 寻找，搜寻；搜查；研究 | [阴] | pəla'ṭəna | پلټنه |
| 幸福的，幸运的；顺利的 | 〈阿〉[形] | mas’'u:d | مسعود |
| 搪瓷；珐琅；蓝色玻璃 | [阴] | mi'na: | مينا |
| 事件；事故；障碍；疾病 | 〈阿〉[阳] | ‘a:ri'za | عارضه |
| 看守圣陵或圣地的人 | [形] | muja:'wir | مجاور |
| 大理石 | 〈波〉[阳] | mar'mar | مرمر |
| 雕像，塑像 | [阴] | mujasa'ma | مجسمه |
| 阻止；放置，装设 | [及] | dara'wəl | درول |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 墓地，陵园 | [阴] | hadi'ra | هديره |
| 证实，确定；加强，支持 | 〈阿〉[阳] | ta:'yi:d | تائيد |
| 庙宇，神殿；庵，寺院 | 〈阿〉[阳] | ma''bad | معبد |

## تمرين

### ۱ تمرين: لاندې چيني عبارتونه په پښتو ژبې وليکئ.

练习题 1：用普什图语写出下列说法。

文化遗产 ______________________

面临危险 ______________________

奠定基础 ______________________

手工艺品 ______________________

零散地 ______________________

现状 ______________________

濒临灭绝 ______________________

亟需关注 ______________________

### ۲ تمرين: د متن له مضمون سره سم د لاندې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو او عبارتونو سره بشپړ کړئ!

练习题 2：根据文章内容在下列句子空白处填上合适的单词或词组。

الف　اوسی __________ سياسي وضعې د افغانانو پر فرهنګي دود، ويجاړوونکی او تور سيوری خور کړی دی، البته دا يوه __________ نه ده چې په تاريخ کې نه وي پېښه شوې، داسې حالات ددې هېواد د تاريخ په __________ کې پخوا هم پېښ شوي دي.

ب　دافغانستان دفرهنګي ميراثونو ريښې تر نته سل زره کاله د مخه، هغه وخت ته رسېږي، چې نرو او ښځو هغه لومړني __________ رامنځته کړل چې تر اوسته کشف شوي دي.

ج　د دې خبرې يادول __________ دي، چې جګړه د هنري بنسټونو د ړنګونې او کمونې يوازينی عامل نه دی، ښاري ژوند هم دودونه له منځه وړي. په __________ ژوند دود کې بدلون په خپله د هنرونو او لاسي صنايعو د له منځه تللو يو بل عامل ګرځي.

د　هغه احساس چې يو ملت د واک او __________ لپاره لازم ګڼل کېږي. نن تېرو تاريخي سمبولونو او بنسټونو ته بې __________ دوام لري، موزيمونه په بشپړه توګه لوټ شوي، لرغوني سيمې په بېرحمۍ سره تالا شوي.

ه　د جګړې د مخه دې هنر ته چندان پاملرنه نه وه شوې او اوس يوازې د کابل د زاړه ښار په

کنډوالو کې په ______ ډول ليدل کېږي. که چېرې د دې هنر جوړوونکي د هغه بڼه بدله نه کړي.

### ۳ تمرين: متن يو ځل بيا ولولئ او لاندې څرګندوني نښه کړئ چې سم دي که غلط.

练习题 3：再次阅读文章，判断以下表述是否正确。

الف د يوه حيوان مجسمه چې هغه ته په ورننوتونکې دروازه کې ودرول شوې وه، د طالبانو له خوا لرې شوې ده.

ب طلا تپه د افغانستان او شوروي لرغونپوهانو ګډو کيندنو شپږ قبرونه رابهر کړل.

ج د تيمور شاه مقبره د فرانسويانو له خوا کيندل شوې وه، لوټ شوې ده.

د جامع جومات د افغانستان په مرکزي سيمه کې پروت دی.

ه د بلخ په زاړه ښار کې ارامېک او يوناني دوه ژبی يو ډبرليک چې ۳ق م پېړۍ پورې مربوط دی.

### ۴ تمرين: لاندې مفردې کلمې په جمع واړوئ او په مناسبو جملو کې يې استعمال کړئ.

练习题 4：将下列单数词变成复数形式，并将之运用在适当的句子中。

| مفرد | جمع | |
|---|---|---|
| | | کارونه |
| وسيله | | |
| احساس | | |
| آبده | | |
| جهيل | | |
| ميراث | | |

### ۵ تمرين: د مفهوم له مخې لاندينيو پوښتنو ته ځواب ورکړئ!

练习题 5：根据理解回答下列问题。

الف- د احمد شاه بابا مقبره په کوم ځای کې پرته ده؟

ب- له کوم ځای څخه د سرو زرو شاوخوا شل زره اثار لاسته راغلي وو؟

ج- جګړه د هنري بنسټونو د ړنګونې او کمونې يوازينی عامل نه دی، ولې؟

د- هډه په کوم وخت کې د څه شي له کبله ويجاړه شوې؟

ه- چهل زينه د چا د لارښوونې له مخې جوړه شوې ده؟

### ۶ تمرين: فرهنګي ميراثونه مهم اهميت لري د فرهنګي ميراثونو د ساتلو لپاره څه بايد وکړو.

练习题 6：文化遗产具有重要的意义，关于文化遗产的保护我们能做些什么？

# 第 2 课　阿富汗高等教育现状

# د افغانستان د لوړو زده کړو موسسې حالت

**لیکوال: حمیدالله حمیدي**

که څه هم چې په افغانستان کې د عصري زده کړو د پیل وخت لا سم روښانه نه دی، خو د اعلیحضرت غازي امان الله خان د واکمنۍ دوره چې د ۱۹۱۹ او ۱۹۲۹ زېږدیز کلونو تر منځ وه، د افغانستان د پوهنې د انکشاف او پراختیا په برخه کې یوه زرینه او طلایي دوره ګڼل کېږي. په دغه دوره کې د پوهنې په لاره کې داسې غورځنګ پیل شو چې وړانګې یې تر نن پورې خورې دي او نه یوازې نارینه بلکې په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره ښځینه افغانانو ته هم د زده کړو زمینه برابره شوه. په دې زرینه دوره کې افغانستان د متمدنې او پرمختللې نړۍ له سترو علمي مرکزونو سره په اړیکه کې شو او د هېواد دننه او بهر لسګونه زره افغانان د دې جوګه شول چې د پوهنې له وړانګو څخه په پراخه پیمانه ګټه پورته او ځانونه د افغانستان د مسلکي کادرونو په توګه ثابت کړي. په اماني دوره کې د افغانستان په مرکز او ولایتونو کې یو شمېر لومړني ښوونځي تاسیس شول، بهرني مربیین، استادان او متخصصین هېواد ته را دعوت او د پوهنیزو موسسو په تشکیلاتو کې مقرر شول. همدارنګه په دې دوره کې د هېواد د پوهنې په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د ښځو ځانګړي ښوونځي جوړ شول چې د




(عصمت) او (مستورات) په نامه یادېدل او په کابل ښار کې د لویانو لپاره د حیاتي سواد کورسونه جوړ شول چې د (صوت غازي) تعلیمي او د سواد زده کړې اصول پکې تطبیق کېدل. په دې ډول کورسونو کې پر پوهنه مین پاچا غازي امان الله خان او مېرمنې یې (ثریا) هم د ښوونکو په توګه برخه اخیستله او د هېوادوالو د سواد په برخه کې یې خپله دیني وجیبه او ملي دنده ادا کوله. په اماني دوره کې جبیبیې لېسې ته لازمه پراختیا ورکړل شوه او پر اماني لېسه سربېره د ټول هېواد په کچه ۳۲۲ ښوونځي د عامو او مسلکي زده کړو په موخه جوړ شول چې په هغه کې ۵۱۰۰۰ زده کوونکو ته تعلیمي خدمات وړاندې کېدل. همدارنګه په دې دوره کې د ۳۵۰ زده کوونکو په شاوخوا کې بهرنیو هېوادونو لکه: ترکیې،

شوروي اتحاد، آلمان، فرانسې، ایټالیا او داسې نورو ته د لوړو او مسلکي زده کړو په موخه لیږل شوي وو چې د همدې زده کوونکو یوه برخه ښځینه وه. له هغه را وروسته د کابل پوهنتون چې د افغانستان په پلازمېنه کابل کې یو له سترو پوهنتونونو څخه دی، په ۱۹۳۱ زیږدیز کال کې د بنسټ ډبره کېښودل شوه او په ۱۹۳۳ زیږدیز کال کې په رسمي ډول پرانیستل شو. دغه پوهنتون اوس ډېر پوهنځي او په زرګونه نارینه او ښځینه محصلین لري. له دې سره په څنګ کې اوس نږدې ټول ولایتونه د پوهنتون او د لوړو زده کړو د موسسې او دارالمعلمین درلودونکي دي. د یادولو وړ ده چې د پوهنتونونو په اړه دغه معلومات په ۱۳۹۷ لمریز کال کې راټول شوي. ښکاره ده چې دغه پوهنتونونه به د وخت په تېرېدو هر اړخیز بدلون کوي، د لوړو زده کړو موسسې به پوهنتونونو ته ارتقاع کوي، په معلوماتو کې به یې زیاتوالی راځي او نورستان یوازینی هغه ولایت چې تر اوسه پورې پکې دولتي پوهنتون یا د لوړو زده کړو موسسه نشته، کېدای شي د پوهنتون درلودونکی شي. خو ما وغوښتل چې په ټوله کې دغه معلومات هم خوندي شي، څو پوهنتونونو ته نوي ورتلونکي محصلین او نور هغه کسان چې غواړي د پوهنتونونو په اړه معلومات تر لاسه کړي، یوه کوچنۍ مرسته مې ور سره کړې وي.

## لغتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| 现代的；现代化的 | 〈阿〉[形] | 'as'ri: | عصري |
| 开明的，文明的 | [形] | ro'ḥa:na | روښانه |
| 权力；领导；独立，主权 | [阴] | wa:kmə'ni: | واکمني |
| 时代，时期；朝代；阶段 | [阴] | dau'ra | دوره |
| 知识；科学；教育；训练 | [阴] | po'həna | پوهنه |
| 发展，进步，提高；研究 | 〈阿〉[阳] | inki'sha:f | انکشاف |
| 发展；宽广；宽度；扩张 | [阴] | pra:kh-ti'ya: | پراختیا |
| 金色的，金黄色的，金的 | [形] | za'ri:n | زرین |
| 金色的，金的 | [形] | tila:-'yi: | طلایي |
| （政治、社会）运动；跳跃 | [阳] | ghur'dzang | غورځنګ |
| 光线，光亮；光辉 | [阴] | w'ṛa:nga | وړانګه |
| 被散开的；被传播的 | [形] | khor | خور |
| 背景；基础，条件；领域 | [阴] | zami:'na | زمینه |
| 文明的，有文化；开化的 | 〈阿〉[形] | mutama'din | متمدن |
| 准备好的；有能力应对的 | [形] | ju'ga | جوګه |
| 度量，程度，范围；碗 | 〈波〉[阴] | paima:'na | پیمانه |
| 职业的；专门的，特别的 | 〈阿〉[形] | masla'ki: | مسلکي |
| 干部，工作干部 | [阳] | ka:dr | کادر |
| 稳定的，稳固的；被确定的 | 〈阿〉[形] | sa:'bi:t | ثابت |



此为试读，需要完整PDF请访问：www.ertongbook.com